همکاری آلمان
DEUTSCHE ZUSAMMENARBEIT

# بدخشان

دغه غرنۍ ولايت چې د افغانستان په شمال ختيز کې پروت دی د ۲۸ ولسواليو څخه جوړشوی دی او د تاجکستان، چين او پاکستان سره ګډې پولې لري. د ولايت اصلي ژبه دري ده.

په دې ولايت کې بيخبنا کمزورې ده، پرله پسې طبيعي ناروي پيښيږي او ګڼ شمير خلک روغتياي څارنې، د ښاک اوبو او د انرژۍ سرچينو ته لاسرسی نلري. له دې کبله دغه ولايت د پخوا په شان د اقتصادي ودې او پراختيا په لاره کې د خنډونو سره مخامخ کيږي. د بدخشان د ۹۶۰۰۰۰ تنو اوسيدونکو د پاره کرهنه د عايد يوه اصلي سرچينه ګڼل کيږي. سره له دې هم دا ولايت د طبيعي سرچينو او کانونو له پلوه بډای دی چې يوه برخه يې اوس ايستل کيږي.

کوچني غرني کلي د ولايت د ټرانسپورټ د شبکې سره نه دي نښلول شوي، او له دې امله د دې شبکې د پراخولو په موخه کار روان دی ترڅو بدخشان د افغانستان د نورو سيمو سره ونښلوي. د ولايت مرکز فيض آباد هم يو هوايي ډګر لري چې اوس د مرستندويو سازمانونو، د ملګرو ملتو، د افغان پوځ او سوداګريزو الوتنو له خوا کارول کيږي.

د ډيرو کلونو راهيسې د افغانستان سره د المان د همکاری پروګرام په بدخشان کې د پوهنې، اداري اصلاحاتو، د قانون د واکمنی، اقتصادي پراختيا، د ناوريو د مخنيوې، خوراکي امنيت، او د ښاک د اوبو او د انرژۍ د برابرلو په ډګرونو کې کار کوي. يو زيات شمير بيخبناي نوښتونو مرسته کړيده چې بدلونونه منځته راشي او د اوسيدونکو د ژوند شرايط سمون ومومي.

په دغه برخه کې په بدخشان کې د افغانستان سره د المان د همکاری د پروګرام د فعاليتونو په باب يوه لنډه کتنه لوستلای شی.

Project:
د پولې پر سر د پراختيا او همکاری تينګښت
د افغانستان په شمال کې د پايښتونکي اقتصادي ودې ټينګښت
د افغانستان په شمال کې پاکې اوبه
د افغانستان د خلکو دپاره د روغتيايي څارنې سمون
برښنا د اقتصادی شاخص په توګه_ د قانونی چوکاټ رامنځ ته کول او د پانګونې آسانتياوې
د افغانستان لپاره نوې کيدونکي انرژۍ
د ښوونې او روزنې د سکتور اصلاح کول – د ښوونکو دپاره نوي سټنډرډونه او درسي نصابونه
د ټولو ښاريانو دپاره حقوقي مصونيت
د افغانستان د شمال د ثبات جوړونې په موخه پياوړي حکومتي جوړښتونه
د پراختيا شفافه طرحه کول او پلی کول
دولتی ارګانونه د ټولنې د استنادي ستنو په توګه
د سولې دپاره ځوانان

- English
- Deutsch

- دری